

# بريالى امت
# او مات شوي صليبيان

شيخ ايمن الظواهرى حفظه الله

بسم الله الرحمن الرحیم

# بريالى امت
# او مات شوي صليبيان

(د صليبي حملې نه نهه کاله وروسته ــــ رمضان المبارك ١٤٣١ هـ)

شيخ ايمن الظواهرى حفظه الله

د السحاب خپرندويه اداره

بسم الله الرحمن الرحیم

بسمِ اللهِ والحمدُ للهِ والصلاةُ والسلامُ على رسولِ اللهِ وآلِه وصحبِه ومن والاه

په هر ځای کې زما مسلمانو ورونړو السلام علیکم ورحمة الله و برکاته و بعد.

په اول کې غواړم په پاکستان کې خپلو ورونړو ته خپله غم شریکي د هغه ضررونو په هکله وړاندې کړم چې په پاکستان کې د وروستي سیلابونو له امله دوئ ته رسیدلی، او الله ﷻ څخه غواړم چې په مړو یې رحم وکړي، او زخمیانو ته یې شفا ورکړي، او کونډو، یتیمانو، او زوریدلو ته یې بدله ورکړي. او ډیره زیاته مو تمنا دا وه چې زه او نور وروڼه مې په پاکستان کې د خپلو خلکو په مینځ کې وای، او دوئ ته مو د خپلې وسې مرستې او کومکونه کولای. او الله ﷻ زمونږ ډیرو ته دا شرف راپه برخه کړی چې د روسانو په خلاف د جهاد په وخت کې مو خپلو افغاني ورونړو سره مرسته او مدد کړی وو. او الله ﷻ زمونږ ډیرو ته د افغانستان په پاکه خاوره د جهاد عزت، او بیا د شهادت درجه راپه نصیب کړه.

او ځینې له مونږ داسې وو چې الله ﷻ دواړه ښیګڼې، هم د مرستې کولو او هم د جهاد کولو ور په نصیب کړې وې لکه شهید ـ کما نحسبه ـ ابو عبدالرحمن کنډی رحمه الله کوم چې د عالمي صلیب د اجیر او مزدورو لښکرو پاکستاني فوځ په لاس ووژل شو.

او ډیره زیات مو تمنا دا وه چې په افغانستان کې خپل دې کار ته په کشمیر او پاکستان کې هم دوام ورکړو، مګر په پاکستاني حکومت کې خاین واکداران او فوځیان د دې شرف حاصلولو مانع وګرځیدل او لا هم مانع ګرځي، چې په دې ترتیب سره یې په واشنګټن، لندن، او تل ابیب کې د لویو مجرمانو خدمت کړی وي.

او دا خبره خوښه ګڼم چې په پاکستان کې خپلو خلکو ته دا خبره څرګنده کړم چې د سيلاب ځپلو خلکو په مرسته کولو کې د پاکستاني حکومت د ناکامۍ لامل په پاکستان کې د حالاتو د خرابوالي او فساد په مقابل کې د دوئ چوپه خوله پاتې کيدل دي.

نو غل رئيس جمهور د خپلو خلکو له مصيبتونو څخه په پاريس او لندن کې له غرب سره د خپلو علايقو په جوړولو باندې مصروف دی، او هلته د ډيرو مالونو په خرڅولو د لويو فاخره هوټلونو په جوړولو او د لوکسو موټرو په رانيولو او د هغوئ په راوړلو، هم دی او هم يې لاس لاندې منافق لښکريان لګيا دي.

او په مقابل کې خلك هرې يوې روپۍ ته اړ او محتاج  دي تر څو د زيانمن شويو خلکو مرسته پرې وکړي.

او بيا غلام او مزدور لښکر د بارانونو اوسيلابونو په ځايو کې د مرستې کولو په ځای په قبايلو کې د مسلمانانو په وژلو او د هغوئ د کليو په ړنګولو لګيا دي.

په پاکستان کې پدې فاسدو او فساد خورونکو باندې زمونږ د خلکو چوپ خوله پاتې کيدل، د دوئ مرستې ته دهغوی د نه وردانګولو يواځينی لامل دی. او همدا په پاکستان باندې د مصيبتونو د راتللو سبب دی.

په حکومت او پاکستاني فوځ کې د حاکمې طبقې لومړنی هدف خو په خارجي او داخلي بانکونو کې په ډالرو د خپلو حسابونو ډيرول دي،او پاکستان او خلك دې يې د هلاکت کندو ته وغورځيږي. او غواړم چې خپل ځان او په پاکستان کې خپلو خلکو ته نصيحت وکړم چې الله ﷻ يواځې همدی زمونږ نه د دې مصيبتونو لرې کوونکی دی، او همدی تنها هغه څوك دی چې دضرر او نفع رسولو مالك دی.

الله ﷻ فرمايي:  ووايه: د وچې او لمدې له تيارو مو څوك ژغوري چې په زاريو يې پټ پټ رابولئ چې که له دې يې خلاص کړلو نو خامخا به له شکر ويستونکو شو. ورته ووايه الله مو له هغې، او له بل هر کړاو نه ساتي خو تاسو بيا هم شريکان ورسره نيسئ.

ووایه هغه په دې قادر دی چې له پاسه، یا له پښو لاندې مو کوم عذاب درباندې راولي، یا مو په ډلو کې سره ګډوډ کړي اوځینو ته د ځینو نورو د عذاب خوند وروڅکي، وګوره څرنګه آیاتونه راز راز بیانوو تر څو دوئ وپوهیږي.

نو ځکه په مونږ لازمه ده چې په مونږ د هر مصیبت د راتلو په وخت کې ځانونو ته متوجه شو، او په ګناهونو او تیریو کې د هغې سره محاسبه وکړو_ الله فرمایي: او له تا مخکې مو هم(ډیرو) قومونو ته رسولان لیږلي، بیا مو هغوئ په کړاوونو او غمونو کې اخته کړل چې عاجزی سره غاړه کیږدي. نو کله چې زمونږ سختي پرې راغله ولې یې عاجزي ونه کړه، د دوئ خو زړونه لا هم سخت شول او څه یې چې کول هماغه شیطان ورته ښایسته کړل.

نو په پاکستان کې زمونږ په خلکو لازمه ده چې له خپل رب سره د خپلې رابطې اصلاح وکړي.

او له هرې ګناه څخه چې کړې وي د توبې کولو پوخ عزم او اراده وکړي.

او له شریعت او عقیدې څخه د هر انحراف او کوږوالي څخه پښیمانه شي.

په پاکستانیانو کې د اسلام له دایرې څخه د ډیرو خلکو په مینځ کې د انحرافاتو خوریدل هیچانه هم پټ نه دي.

د عقیدې په لحاظ ډیرو کې علمانیت او بې دیني خوره شوې.

او اسلام ته په دې نظر ګوري چې دا صرف څو ځاني عبادتونه دي چې د کور او مسجد له دیوالونو یې علاوه څه کار نشته.

او د ډیرو په مینځ کې قبرونو ته پناه وروړل او صرف یو الله ته دعا نه کول عام شوي.

او له دې سره سره نور شرکونه او په دین کې نوې جوړې کړې خبرې. او حال دا چې یو الله ﷻ همدې ضرر رسوونکی، نفع رسوونکی، روزي رسوونکی، ژوندی کوونکی، مرګ ورکوونکی، هدایت کوونکې او ګمراه کوونکی دی، او بس.

الله ﷻ فرمایي: او داچې جوماتونه د الله دي، نو( هلته) الله سره هیڅوک مه رابلئ. او دا چې کله د الله بنده( حضرت محمد ﷺ) د هغه بللو ته پاڅید، نږدې وو چې

دوئ(پيريان) سر په سر هغه باندې ورولويږي. ورته ووايه: زه خو يواځې خپل رب رابلم او بل هيڅوک نه ورسره شريکوم. ورته ووايه: زه تاسې ته نه د تاوان رسولو واک لرم او نه د خير ښګڼې. او هيڅکله به پرته له هغه بل د پناه ځای ونه مومم.

او رسول اللهﷺ فرمايي: او کله دې چې څه غوښتنه درلوده نو صرف له يو اللهﷻ څخه يې غواړه او کله دې چې مدد غوښتلو نو يو اللهﷻ نه يې غواړه.

او د شريعت د احکامو نه خلاف کول چې دي، نو پاکستانی حکومت لښکرې، او امنيتي ارګانونه يې د مسلمانانو مجاهدينو سره په جګړه کولو کې په افغانستان او پاکستان کې ښه په زور کې لګيا دي.

او دا ټول په دې ګناه چې مجاهدين په پاکستان او افغانستان کې په اسلامي خاوره او مقدساتو باندې د صليبي يرغلګرو کافرو د حملې د مخنيوي له پاره په پښو دريدلي، او د هغوئ خلاف جهاد او مقاومت کوي.

نو پاکستانی حکومت لښکر او امنيتي ادارې له ټولو نه په سختې ګناه کې واقع شوي.

اللهﷻ فرمايي: اې مؤمنانو! يهوديان او نصرانيان ملګري مه نيسئ، دوئ خپلو کې يو د بل ملګري دي، او له تاسو يې چې څوک په ملګرتيا نيسي نو هغه هم له دوئ شميرل کيږي بې شکه الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي

نو اللهﷻ هغه څوک چې د مسلمانانو خلاف د يهودو او نصاراوو مرسته کوي د يهوديانو او نصرانيانو له ډلې ګرځولي. ځکه الله ﷻ فرمايي: چا چې له هغوئ سره دوستي وکوله نو يقينا دی هم له هغو څخه ده.

بيا الله ﷻ د اخبره بيان کړې، چې د مؤمنانو خلاف د کافرانو مرسته کولو سبب دا دی چې دوئ د دنيا په تلونکې فايدې باندې حريص دي، او د هغې په له لاسه ورکولو باندې ويره لري.

نو الله ﷻ فرمايي: نو ته ګورې چې د چا په زړه کې ناروغي ده، په هغوئ کې منډې ترړې وهي، وايي ويريږو چې څه پيښه(مصيبت اوحادثه) راونه رسي، خو

لرې نده چې الله ﷻ له خپل لوري کوم برى درته راولي يا څه بله خبره( څرګنده کړي) نو بيا به په هغه چې په زړونو کې يې پټوي، پښيمانه وي.

اې هغو مسلمانانو چې په خپل دين او د اللهﷻ د غضب نه په دنيا او آخرت کې په خلاصون حريص يې.

د منافقانو په هغه دليل باندې لږ فکر وکړی، کوم چې قرآن ذکر کړی، آيا دا عين هماغه دليل نه ده کوم چې د پاکستاني حکومت لښکرې او ارګانونونه يې وړاندې کوي.

آيا د دوئ دليل دا نه دی: چې مونږ په خپلو مصالحو د ويرې او د پاکستان د مصالحو په خاطر دا خبره پتيلې چې په پاکستان او افغانستان کې مسلمانان ووژنو، او کلي يې وران کړو، کورونه يې وسوزوو، او د هغوئ په مليونونو له خپلو کورونو څخه وشړو.

نو بيا مبارکو آياتونو دا خبره ښکاره کړې چې دوئ په دې انحراف کولو او په دې لويې ګناه سره مؤمنانو ته د دوئ خبره ښکاره شوه، نو د دوئ د ايمان دعوه اوس ورته څه ګټه نه رسوي.

اګر که کلک قسمونه هم وخوري، او د دوئ عملونه ضايع شول، او دوئ له تاوان نه پرته بل څه لاس ته نه شي راوړلای.

الله ﷻ فرمايي: او بيا به مؤمنان وايي: آيا دا هماغه خلک دي چې په ټينګه يې قسمونه کول چې موږ له تاسې سره يو، اوس خو يې ټول عملونه خوشې بابيزه ولاړل او (ډير) تاواني شول.

دې نه وروسته مبارک آيتونه په قاطع اسلوب او يقيني څرګندوالي سره دا خبره بيانوي چې اللهﷻ د خپل دين نصرت کوونکو او خپلو دوستانو ته عزت ورکوونکی دی.

او د دې مرتدو ارتداد به الله ﷻ د خپلو لښکرو او نيکو بندګانو په لاس کوم چې د ده د رضا له پاره جهاد کوي له بيخه وباسي. کوم چې د دښمنانو له دښمنۍ او د ملامت کوونکو له ملامتۍ څخه نه ويريږي، نو فرمايي: اې مؤمنانو! په تاسو کې چې هرڅوک له خپله دينه وګرځيد نو ژر به الله داسې خلک راولي چې الله ته

ګران وي او الله هغوئ ته ګران وي، پر مؤمنانو به نرمي او په کافرانو به سختي کوونکي وي. د الله په لار کې به جهاد کوي او د چا پړه اچولو نه به نه ډارېږي. دا نو د الله يو فضل دی چاته يې چې خوښه شي ورکوي يې، او الله پوه د پراخئ ښښتن دی.

نو بيا الله ﷻ د يو الله پرستئ او هدايت، د يو داسې قاعدې بنياد ږدي: چې د مسلمانانو سره دوستي او د هغوئ مدد کول بايد صرف د الله ﷻ د دين او د رسول الله ﷺ د سنتو په بنياد او په اسلام او ايمان کې د خپلو روڼو له پاره وي. او څوک چې دا کار کوي نو هغه يقينا د الله ﷻ د هغې ډلې څخه دی چې غالب او کامياب به وي.

نو الله ﷻ فرمايي: په حقيقت کې ستاسې ملګری يوازې هغه الله، رسول يې او هغه مؤمنان دي چې لمونځونه ترسره کوي او زکات ورکوي حال دا چې رکوع کوونکي وي.

او څوک چې الله، د هغه رسول او مؤمنانو سره دوستي کوي نو(پوه دې شئ چې) همدغه د الله ډله برلاسې کيدونکې ده.

بيا الله ﷻ د کفارو د مرستې او هغوئ سره دوستي کولو سره خبرداری ورکوي. کوم خلك چې د اسلام په دين مسخرې او ملنډې وهي ـ نو الله ﷻ فرمايي: اې مؤمنانو! هغه خلك په ملګرتيا مه نيسئ چې ستاسو په دين ملنډې او ساعت تيری کوي، دا که له هغو کسانو وي چې تاسو نه مخکې کتاب ورکړ شوی او که له نورو کافرانو. او الله نه وډارشئ که تاسو(ريښتيني) مؤمنان يئ.

نو سبحان الله. آيا د ناټو ځواکونه کوم چې په پاکستان ګرځي راګرځي او د پاکستاني حکومت لښکرې او امنيتي ځواکونه د هغوئ مرسته تائيد او امداد کوي.

آيا دا د هغو خلکو څخه نه دي چې نبي ﷺ ته په کې په ښکاره په جريدو او خپرندويو وسايلو کې بد رد ويل شوي.

او آيا دا هغه خلك نه دي کوم چې په ګوانتنامو، عراق او نورو ځايو کې يې د قرآن کريم سپکاوی کړی.

او آيا دا هغه پاكستاني ځواكونه نه دي كوم يې چې د شريعت د احكامو د نفاذ مخالفت وكړ- او لال مسجد يې ويجاړ كړ، او ويې سوزاوه. او په هغه كې يې په زرګونو شهيدان امريكا ته د نزديكت او د هغې د رضا له پاره ونه وژل.

او آيا پاكستان هغه نه ده كوم چې يې خپرندويه وسايل، جريدې، كتابونه، او اعلانونه يې په ښكاره د ګناهونو كولو، لغړتوب او اخلاقي فساد نه ډك دي.

آيا په پاكستان كې ټول د هلاكيدو اسباب لكه شراب څكل، نشيي توكې استعمالول، لغړتوب، بې پردګي، قيمار، سود، او بدلمني خوره نه ده.

نو آيا توبه كول نشته: بيرته راګرځيدل نشته؟

نو آيا د الله ﷻ خواته د عقيدې په سهي كولو د ګناهونو په پريښودلو د مؤمنانو سره په دوستي كولو او كافرانو سره په دښمني كولو ورګرځيدل نشته.

په پاكستان كې زما ورونړو په دې پوه شی چې الله ﷻ چې يوازې ګناهګارانو ته سزا نه وركوي. بلكې هغو ته يې هم وركوي چې د دوئ په كړو راضي او چپ پاتې شوي وي، او هغو ته يې د نيكو امر او له بديو څخه په لاسونو، ژبو، او زړونو منعه نه وي كړي. او يوازې هغو ته به نجات وي كوم چې له بديو منعه كول كوي. الله ﷻ فرمايي: او د هغه كلي په هكله يې وپوښته چې د سمندر په غاړه ؤ هغه مهال چې د خالي په ورځ به ورته مايان څرګند راتلل او چې د خالي ورځ به نه وه، نه به ورته راتلل، همداسې يې ازميو، په دې چې سرغړونه يې كوله. او كله چې يوې ډلې يې وويل: د څه له پاره داسې خلكو ته نصيحت كوئ چې الله يې تباه كوونكی يا سخت عذاب وركوونكی دی، هغوئ ورته وويل: ستاسو رب ته د عذر پيدا كولو دپاره او دا چې ښايي دوئ هم وويريږي. نو كله يې چې هغه نصيحت هير كړ چې يادونه يې ورته شوې وه نو بيا مو هغه كسان خلاص كړل چې له بدو يې منع كول او چاچې ظلم كړی ؤ هغوئ سخت عذاب راونيول، په دې چې سر غړونه يې كوله.

نو الله ﷻ يوازې هغو ته نجات وركړ چې له بديو يې خلك راګرځول. او نور يې په سخت عذاب اخته كړل.

له ابوبکر صديقؓ نه روايت شوی چې فرمايي: چې تاسو د اللهﷻ دا قول لولی چې فرمايي: ای مؤمنانو! د خپلو ځانو غم کوئ، د بل چا بې لارې توب کوم تاوان نه درته کوي خو چې خپله پر سمه لار ياست.

او ما له رسول اللهﷺ څخه اوريدلي. چې فرمايي: کله چې خلک ظالم وګوري او د هغه لاسونه ونه نيسي اللهﷻ به ټولو ته عذاب ورکړي.

په پاکستان کې زما مسلمانانو ورونو! کله چې په افغانستان او پاکستان کې د نني صليبي جګړې مجرمان زمونږ او ستاسو په مينځ کې د دې مانع شوي چې ستاسو سره د مرستې سعادت حاصل کړو.

نو په پاکستان کې دې زمونږ ورونه زمونږ غمشکريکي او دوي ته د رحمت او د مصيبت او د غم لرې کولو دعاګانې قبولې کړي.

او يوازې اللهﷻ مقصود ده په هر حال کې.

او پاکستاني خپلو ورونو ته د غم شريکۍ نه وروسته، او په هر ځای کې مسلمان امت ته دا وريادوم چې په دې ورځو کې په مونږ باندې د صليبي معاصرې حملې له شروع څخه نهه کاله تيريږي، کومه چې په افغانستان کې په امارت اسلامي باندې د دې حملې پيل شوی وو.

زه نه غواړم چې په خپلو خبروکې د اللهﷻ په حکم په افغانستان کې د ملا عمر حفظه الله په مشرۍ د امارت اسلامي د مجاهدينو رانږدې کاميابي او سوبې يادې کړم.

ځکه دا هغه خبره ده چې د اللهﷻ په فضل دوست او دشمن دواړو ورباندې اتفاق کړی، او هيڅوک د دې کاميابۍ په راتلو کې شک نه کوي. تر دې چې د امريکا په مشرۍ صليبي اتحاد هم دا مني مګر خبره صرف په دې کې ده چې دا به کله او څرنګه وي.

زه وايم د الله ﷻ په حکم سره په افغانستان کې نږدې فتحې ته زه نه غواړم چې اشاره وکړم بلکې څه چې زه غواړم چې ويې وايم هغه عبارت له هغو درسونو او عبرتونو څخه دي کوم چې د صليبيانو او د هغوئ د مزدورانو په مقابل کې د دې نهه کلنۍ جګړې تجربې يې له ځان سره لري.

کوم چې ټول عالم اسلام کې د خراسان څخه رانيولې بيا تر مغرب اسلامي پورې حتی چې د غربيانو د کور په دننه کې هم روان دي.

زه ګمان کوم چې په مسلمانه خاوره د غربي تيري سره چې د عقيدې له پلوه بې دينه او د صليبيت په لحاظ بې بندوباره ده دې نهه کلنې جګړې د مخامخ کيدو هغه دوه طريقې او خوځښتونه څرګند او سره جلا کړل.

اول خوځښت: د جهاد د سنګرونو ثابت پاتې کيدلو او د اسلام د لمنځه وړلو او د هغه د شعايرو څخه دفاع کولو خوځښت وو. چې د عقيدې په اصولو يې ځان پابند کړی، او له خپلو عقايدو، اصولو او ارزښتونو څخه د نه په شاکيدو په هغو د نه سازش کولو، تيريدلو او نه صلحې کولو خوځښت.

او د خپلو کمو اسبابو، کمې توښې او کم تيارئ په درلودلو سره الله ﷻ ته د نزدې کيدلو له پاره او د هغه په مرسته او په ځمکه کې د بر لاسي کولو په وعدې د باور په درلودلو سره د تيري کوونکو صليبيانو په مقابل کې د الله ﷻ په توکل باندې مخامخ کيدلو کې د ورګډيدلو خوځښت.

او دا له خراسانه بيا تر مغربې اسلامي پورې د مجاهدينو خوځښت او د هر هغه چا چې دوئ سره يې مرسته او نصرت کړی.

او هر څه دوهم خوځښت چې ده، نو هغه د عقيدې د اصولو، د اسلام د اساساتو، د شريعت د احکامو، د مسلمانانو د مقدساتو څخه د په شاتګ جوړ جاړی، ځان تيريدنې، او د ځان ذليله کولو خوځښت دی.

او دې منهج څو قسمه ډلې لکه دماتې خوړوونکي، لويدونکي، په عقيده کې شک اچوونکي، د هويت سوال کوونکي، د سياسي مهارت دعوه داران، په علمانيت باندې رنګ شوي د قوميت او ديموکراسي دولت غوښتونکي او داسې نور د خواهش د بوتانو پيروان ځان ته ورټول کړي.

کوم چې بې دينه غربي فکر ورباندې ولاړ دی، او همدا راز اسلام ته منسوبې يو څو ډلې، او حال دا چې هغه په واقع کې د نړيوال کيدو او غرب ته نزدې کيدو په خوا روان دي، او ځان داسې ښکاره کوي چې دا خو په اصل کې ځايي خوځښتونه دي چې په مدني حکومتونو ايمان لري.

او دا په واقع کې د بې دينه حکومت له پاره يو څو په ظاهره ښکلي الفاظ دي.

او د وطن او قوميت سره تړاو له بل هر تړاو نه پورته بولي، او داسې نور عنوانونه او شعارونه، کوم چې دوئ يې د ماديت پر بنسټ ولاړ، د غربي فکر څخه را اخلي کوم چې يو له بل سره په تضاد کي او بې معنى دي.

او دوئ خپل ځان داسې ښکاروي چې دوئ له تروريزم څخه بيزاره دي، او دا جهاد لره د بې دينه غرب تعريف او ښودنه ده.

او خپل پوره وړتيا ديته ښيي چې دوئ په عالمي نظام کې ورګډيدلو او شريکيدلو ته پوره تيار دي، کوم چې په دوم نړيوال جنګ کې برياﻟﻲ غرب په نورو ور فرض کړی، کوم چې د امنيت د شورى ترعنوان لاندې په کمزورو د زورورو د باداری پر بنسټ ولاړ دی، او پر دريمې نړۍ او باالخصوص په اسلامي خاوره باندې له شرقي ترکستان څخه نيولې بيا د اندلس تر سبته او مليليه پورې.

نو په اسلامي امت دا لازمه ده تر څو د دې شتمنې تجربې ښه څېړنه وکړي کوم چې د الله ﷻ په لار کې د الله ﷻ د کلمې د اوچتوالي له پاره د مقاومت او دفاع کولو له جهاد سره تړلی ده.

او د هرې سمتي، قومي او علمانيت ته د بلنې له غوښتنو څخه پاکه ده.

نو په دې تجربه کې د اللهﷻ په فضل او احسان سره د ناتوانۍ د حرکت شبهو له پاره يو عملي جواب دی، کوم چې دوئ مسلمانانو ته دا روا کړی چې په افغانستان کې د امريکايي صليبيانو په صفونو او د هغوئ تر بيرغ لاندې د مسلمانانو خلاف وجنګيږي او هغوئ ووژني، کومو چې په ترکيه کې د ماردين په کنفرانس کې د يو نوي قاديانيت ايجاد وکولو.

د کومو چې مشران يې د جهاد دعوت او اسلامي حرکتونو ته منسوب کيدلو سره سره کابل او بغداد ته د امريکايي ټانکونو په شا او د هغوئ د توپونو تر سيورې لاندې ورننوتل.

کوم چې زمونږ په پايتختونو کې د حکومتونو د راضي کولو له پاره کچکول ګرځوي، او د هغوئ مشران د مسلمانانو ولى الامر بولي.

چې په حقيقت کې دوئ په مسلمانانو باندې د صليبي علماني غرب اولياء دي، دا د عجز او ناتوانۍ هغه حرکت دی کوم چې د بدلون راوستلو له پاره د علماني قوانينو په روا والي د اعتراف او د هغوئ په رڼا کې د کار کولو او د هغې د حکامو لاندې په درواغجنو انتخاباتو کې د برخې اخيستلو له لياري دعوه کوي.

او خبر دې لا دې ځای ته ورسيده چې د دې تغير له پاره د بې دينه محمد البرادعي تر مشرۍ لاندې کار کوي.

کوم چې د امريکا د غم خوروئ له آسمانه په مونږه راپريوته، تر څو په مصر کې مخالفې ډلې د امريکا د ګټو په خوا بوزي، لکه چې د اټومي انرژۍ اداره يې د هغې د ګټو له پاره پکاروله، د محمد البرادعي او مبارك قصه عين د زرداري او مشرف قصه ده.

دا د امريکا زړه، نوې لوبه ده. په پاکستان کې امريکا او غرب د مشرف تائيد وکړ، سره له دې چې انتقاد يې پرې کاوو مګر دا وروسته له دې چې کله يې په افغانستان او پاکستان کې د مسلمانانو د وينې تويونې، او د هغوئ د ښارونو په ورانولو کې ورسره شريك شو، او وروسته له دې چې مشرف د ډيرو جرمونو مرتکب شو، او په اسلام آباد کې يې د سور جومات په بمبارولو او سوزولو وکاراوو، نو وروسته له دې ټولو امريکا د دې احساس وکړ چې اوس مشرف ناکاره شو او د ده په خلاف د خلکو غصه په زياتيدو ده، نو بينظيرې سره يې په دې اتفاق وکړ چې کوم جرمونه چې ورباندې دي له هغې به يې معاف کړي او د دې معافي نامه به له مشرف نه په زور تر لاسه کوي، او بيا به يې پاکستان ته راولي، او په انتخاباتو کې به بريالیتوب ورته آسانوي، کوم چې مونږ ټول پوهيږو چې زمونږ په ملکونو کې انتخابات څه ډول تر سره کيږي.

او دا هغه کار دی چې امريکا په افغانستان، پاکستان او عراق کې په خپل مال، بمونو او ټانکونو تر سره کړی.

نو زه وايم چې امريکا د بينظيرې سره په دې اتفاق وکولو چې په دې شرط حکومت ته د دې د رسيدلو لار آسانوي تر څو په افغانستان او پاکستان کې د مسلمانانو په وژنه کې د امريکا لاس خلاص پريږدي.

او دې ته به د خلکو او آزادۍ په نامه او د ديموکراتيك حکومت په لاس چې اکثريت به ټاکلی وي داسې خدمتونه ورته وړاندې کړي چې هغه به مشرف نه وي تر سره کړی.

او کله چې بينظيره ووژل شوه نو امريکا د خپل مؤقف د جبران کولو له پاره غل زرداري (چې مخکې په هره معامله کې ورته لس فيصده مختص وو) چې د فساد او غلا د جرائمو په وجه نړيوالو محکمو ته هم مطلوب دی، د حکومت کولو له پاره راوړاندې کړ.

نو اوس له لس فيصده غلانه سل په سل فيصده شو. نو ده امريکا ته هغه څه مخکې کړل چې غوښتل يې، او هغه څه يې امريکا ته ورکړل چې پاکستاني فوځ سره له خپل غلامتوبه اوپست والي ديته تيار نه وو چې وريې کړي، او دا ټول د ديموکراسۍ آزادی او د اکثريت د غوښتنې تر نامه لاندې.

په پاکستان کې ددې شريفو او پاکو انتخاباتو له برکته زرداري د قضاء له منګولو څخه مصؤن شو، هغه چې د هغه او وزيرانو د محاکمه کولو کوششونه يې د دستور د ساتنې او د مفسدينو د حمايت کولو د قوانينو، په کانې مات شول، اوس دا بدبويه قصه دوئ په مصر کې پلي کول غواړي.

دا وروسته له دې چې امريکا له مبارك نه خپل ټول اهداف تر لاسه کړل، او د پيشو د پنجلو په څير يې په منطقه کې د خپلو ټولو پليتو عزايمو له پاره وکارولو، چې په اسلامي حرکتونو د تعذيب د حملو په لارې اچولو نه رانيولې، بيا د عراق ترمحاصرې، او بيا د هغې او د افغانستان بمبارولو نه، د غزې تر محاصرې پورې.

نو کله چې مبارك د فساد، جرائمو او خيانت يوه نښه وګرځيده، او امريکا دا احساس کړه که مبارك نه يې حکومت زوئ ته په ميراث پاتې شي نو کيدای شي تشويشونه او مشکلات راوپاروي، نو دا فيصله يې وکړه چې خپلو اهدافو ته د رسيدلو په خاطر يو بل مشابه خط تعقيب کړي. او هغه د امريکا د غم خوړلو د نماينده دکتور محمد البرادعي په لاس، او يا د بعضې مصريانو د پيژندل شوې ټوکې په بڼه کې چې ورته وايي محمد البرادعي المنتظر يعنې د کوم د راتلو چې انتظار کولی شي.

نو يا به امريکا برادعي په شرقي طريقه د انتخاباتو له لياري حکومت ته راولي، لکه دا کار چې په پاکستان کې وشو.

او يا به يې د جمال مبارك په تسي کې د يو ازغي په شکل کې د مخالفينو د مشر په حيث را مخ ته کړي.

تر څو دواړه د واشنګټن د بادار له پاره په خدمت او دوستي کولو کې يو له بل نه مخ ته شي ـ کوم چې د معاصرې صليبي جګړې مشري کوي.

نو دکتور محمد البرادعي مصر ته وروسته له هغه راغی چې خپل ټول عمر يې د ملل متحد په خدمت کې ختم کړی. هغه اداره چې په مظلومانو د ظالمانو واکداري ساتي.

او وروسته له دې راغی چې خپل عمر يې په عراق، ايران، شمالي کوريا، پاکستان، ليبيا، او سوريه کې پلټنو کې تير کړ، چې هلته د هر قسم اتومي خوځښت پسې پوزه وګرزوي.

په داسې حال کې چې هغه د امريکا، برتانيا، فرانسې او نورو زورورو د غرونو په څير د هر قسم وژونکې اسلحې په باره کې د يو حرف ويلو جرات هم ځان ته نه ورکوي.

مصر ته راغی د هغه نړيوال نظام مخلص کار کوونکی چې په نړيواله دوهمې جګړې کې بريالي غرب په نورو باندې ورتپلی دی.

هغه برادعي چې متکبر نړيوال نظام ځينې خوښ شو او د نوبل جائزه يې ورته ورکړه، کوم چې ده نه مخکې غټو مجرمانو ته ورکړل شوې وه، لکه اسرائيلي وزيراعظم بيګن، مصری مشر سادات او ګستاخ مجيب محفوظ، او اوباما ته.

راغی تر څو په آزادۍ سره وګرځي او د امريکې ساتنې او پالنې نه ګټه پورته کړي، کوم چې د مبارك هغو سزا ورکوونکو چې د هغه سره هر سيالي کوونکې باندې هم رحم نه کوي لاسونه ځينې ونيول، کوم چې يې د خپلو خلکو په عذابولو کې هيڅ درنګ ندی کړی.

او مصر يې په خپله معاصره صليبي جګړه کې  په يو نړيوال مرکز باندې بدل کړی.

هغه جلاد مبارك د امريكا د لورينې د نماينده په وړاندې د يوتلونكي پشك په ځير ودريدو، او مصر يو ناځاپه په داسې حال كې راپاځيده چې په نړيوال نظام كې مخكنى مامور ورته په داسې حال كې راګرځيدلى چې شمال او جنوب كې ګرځي راګرځي او د آزادۍ او ديموكراسۍ زيري وركوي او همدا راز علمانيت خو به لا نه هيرووو.

او ويل كيږي چې ولې به د برادعي تائيد نه كوو كله چې مونږ ته تغير راولي، او دا داسې يو سوال دى چې سوال كوونكى يې بايد راوېښ كړاى شي، او د دنيا او تاريخ په حقيقتونو باندې خبر شي، كوم څوك چې تغير غواړي بايد خپل ځان نه پوښتنه وكړي چې كوم خوا ته تغير او څرنګه؟

كومې خواته غواړي چې لاړشي؟ آيا يو اسلامي دولت جوړولو خواته چې شريعت نافذ كړي، د مظلوم مرسته وكړي، عدل خوركړي او د شورى نظام راولي.

او كه مسخه شوې او مشكوكې علماني عقيدې او د امريكا فيصلې خواته.

او څنګه به تغير راشي؟ آيا په مسالمت آميزه صلحې او د آمنې طريقې سره، او په دې كار ښكاره كولو چې غربي صليب پرسته او علماني عقيدې لرونك نړيوال نظام روا وګڼو، او كه په جهاد، كوشش، مقاومت او په نيكو د امر كولو او له بدو د منع كولو له ليارې.

آيا د ناتوانى سوالګرى او نفع اخيستلو د منهج له لیارې، او كه په خپله عقيده د ثابت پاتې كيدونكو مجاهدينو په منهج، او دا هماغه منهج ده چې امريكا يې دې ته مجبوره كړې چې له افغانستان او عراق څخه خپل وتل اعلان كړي.

او دا هماغه منهج دى چې د دوئ هغه تګلارې يې ور خرابې كړې چې د دوئ په ټانګونو كابل او بغداد خواته سپرو د نړيوال اسلامي تنظيمونو ستورو، درباري علماؤ او د ماردين نويو قاديانيانو، او په عراق ايران او افغانستان كې شيعه مراجعو ورسره مرسته كړې وه.

په مصر او نورو اسلامي هيوادونو كې د زرداري، شيخ شريف،كرزي، او برادعي بيرغونو لاندې د ودريدو له ليارې كله هم تغير نه رازي.

کله به هم د بې دینانو او د نړیوال طاغوتي نظام باندې د بدلوونکو تر بیرغ لاندې تغیر رانشي.

تغیر په زیات مقاومت او دفاع کولو باندې راځي، چې د حق اظهار په عقیده باندې ټینګ او د هغې د راتلو په لار کې کوشش وکړي، چې دا په واقع کې په ښکاره قرباني او په ځان او مال سره جهاد کولو، او په نیکو د امر کولو او له بدو په لاس، ژبه، او زړه سره د منعه کولو لیارې راتللای شي.

او د تغیر په دې لیارکې اول ګام په واقعیتونو باندې پوهه ده، او له ټولو څخه واضح او ښکاره حقیقت د توحید پوهه ده، کوم چې باید د هر نظام، دستور او قانون له پاره حاکمه مرجع وي.

او دوهم د دې حقایقو د هغې جګړې طبیعت پیژندل دي چې مونږ په کې اخته یو، چې دا د اسلامي امت او د هغوئ د اشغالګر خارجي دښمن او د داخلي مزدورانو تر مینځ جګړه ده.

او زمونږ آزادي او کرامت،عزت او په دنیا او آخرت کې زمونږ بریالیتوب تر هغو نه راځي چې دې دواړو ډلو ته مو ماتې نه وي ورکړې.

نو ځکه د دې پوهاوي خوریدل په مونږ کې ضروري دي، د تغیر د ضرورت پوهه چې د باطل شرک او غیرالله ته د تحاکم او د اسلام د دښمنانو د پیروئ څخه حق توحید، تحاکم الی الله او د اسلام د دښمنانو څخه آزادئ خواته تغیر.

او باید د هغه دعوت په بې اساس والي پوهه راشي چې وایي: چې خپل حریت، عزت، او کرامت خواته تغیر په دې رازي چې امریکي سلطې او د هغې له رالیږلو نمایندګانو سره یو ځای شي.

او ټول هغه څه چې دا وروستی دعوت یې راپیدا کوي هغه له یوې پیروئ نه بلې پیروئ ته، او له یو فساد نه بل فساد ته تلل دي. او کله چې دا پوهاوی د امت اسلامي صفونو په مینځ کې خپور شي نو بیا به مقصودي تغیر ته د رسیدلو له پاره نور قدمونه پی درپی وي.

نو ځکه زه هر آزاد، شریف، او په خپل دین، اسلام عزت او کرامت باندې حریص ته بلنه ورکوم چې په خپل ټول توان سره د دې پوهاوي له پاره کار

وکړي، دا پوهاوی چې زمونږ اوسنی فاسد حالت قبلول خو ممکن نه دي، ځکه دا خو د شریعت نه ګرځیدلو، د جابر قوتونو تابعوالی، او د سیاسي دیکتاتورۍ رانیول، د مالي فساد، ټولنیز ظلم او اخلاقي بې بندوبارۍ یو حالت دی. په دې باندې پوهاوی چې زمونږ مقصودي هدف خو شریعت ته فیصلې ورړل دي، او د نړیوالو جابرانو له نظام څخه خلاصول، او د مسلمانانو د ځمکو آزادول، د عدل عام ګرځول، شورایي نظام راوستل، او د امت خپلو حاکمانو سره حساب کول دي.

بیا په دې باندې پوهاوی چې مقصودي هدف حاصلول، د سوال کولو، په شاتګ او روان حالت قبلولو له لارې ممکن نه دي.

بلکې د دې کار لاسته راوړل په ځان او مال د جهاد کولو او په نیکو د امر او د بدو د منع کولو له لیارې راځي.

او هر آزاد شریف ته په خپل دین، اسلام عزت او کرامت باندې حریص ته قسم ورکوم! چې له معاصرې صلیبي حملې سره د تعامل کولو د دواړو تګلارو تر منځ مقارنه وکړي.

چې د جهاد، په الله ﷻ باندې د عزت حاصلولو، او په لاس او ژبه سره د غټو مجرمانو مقابله کولو منهج، او بل د ذلیلوالي، سوال کولو او د هرفرصت په لټه کې اوسیدل، او په سپینه ماڼۍ کې د رومي قیصر راضي کولو منهج دی.

یقینا چې د جهاد او عزت تګلارې هغه څه ثابت کړل چې د هغه انتظار کوونکي چې په الله او ورځې د آخرت ایمان نه لري په فکر کې هم نه وه.

نو د دنیا او د مادیت په ترازو کې د امریکا په سر لښکرۍ د زبر ځواکونو لکه چې دوئ یې وایي او ورسره صلیبي غرب، او د اسبابو په لحاظ فقیرو، مګر په ایمان باندې نغښتي مجاهدینو تر مینځ هیڅ برابرتیا نشته.

مګر د دنیا او د مادیت حسابونه د هغو اساسي سنتونو څخه ناخبره دي چې په دې جهان باندې حکومت کوي. کوم چې الله ﷻ په قرآن کې مونږ ته له هغه نه خبر راکوي.

چې فرمایي: ډیرې وړې ډلې د الله په حکم په لویې ډلې برلاسي شوې دي. او الله خو صابرانو سره (مل) دئ. نو د الله په لار کې جنګیږه، له ځانه پرته په بل چا نه

یې نیولی، خو مؤمنان( جګړې ته) هڅوه، نژدې ده چې الله د کافرانو جګړه ایساره کړي، او د الله جګړه هم ډیره سخته او سزا یې هم ډیره شدیده ده. او مونږ غوښتل چې په هغو خلکو مهرباني وکړو کوم چې په ځمکه کې کمزوري کړی شوي وو، او امامان یې وګرځوو او هم هغوئ وارثان وګرځوو. او په ځمکه کې هغوئ ته واکمني ورکړو او فرعون، هامان او لښکرو ته یې له دوئ(بني اسراییلو) نه هغه څه وروښیو چې ترې ویریدل.

یقینا جهاد او په الله ﷻ باندې د عزت حاصلولو ټکلارې لویو مجرمانو ته عذاب او ډیره وژنه لاسته راوړه.

نو عسکري ماتې یې پی درپی شوې، او اقتصادي تاوانونه یې پرله پسې شول، او د دې اعلان یې وکړ چې مونږ له عراق او افغانستان څخه تلوونکي یو، او لا تر اوسه په دې جګړه کې مجاهدین د امریکا په مشرۍ د لویو مجرمانو سره چې ډیره دنیا یې تر شاه ولاړه ده په مخامخ مقابله کې دي.

او له شانه ورته د ناتوانی داعیان، درباري فقهاء، سوالګر علماء، او اسلام ته د منسوبو حرکتونو بې دینه شوي قیادتونه ورته تکلیف رسوي.

او د دې دوه ګوني دښمنۍ او جوړه شوې جګړې سره سره الله ﷻ پر خپلو مجاهدینو ثابت قدمي نازله کړې، او د صلیبیانو او د هغوئ د مزدورانو صفونه یې کاواکه کړي، او د هغوئ په زړونو کې یې ویره اچولې.

یقینا صلیبي غرب په افغانستان او بیا په عراق باندې له نهه کلنې حملې وروسته په دې خبره پوه شوی چې د نظام بریا ممکنه نه ده، نو ځکه هغه هیلو، دسیسو، او خلکو اخیستلو ته اړ شوی.

او یقینا صلیبي غرب ډیر غوښین قسم ډلې خپل ځان ته راښکلې چې قوي حرکتونو ته منسوبې وې، او ډیر هغه خلک یې هم ځان ته راښکلي چې نړیوال اسلامي حرکت ته منسوب وو، او دوئ د دې له پاره استعمالوي تر څو چې امت له جهاد، په نیکو له امر کولو، او له بدو منع کولو، او په خپل توحید له منګولو لګولو، او په شریعت له فیصلې کولو نه واړوي.

او له قومي حرکتونو څخه ډير مشهور چې غرب ځان ته راړولی، يو هم د فتحې حرکت ده کومو چې دا دعوه کوله چې له ډيرې مهمې قومي مسلې څخه دفاع کوي.

نو خپله قومي مسئله يې خرڅه کړه، او د خپل قوم په ډيرو ځمکو يې د اسرائيلو د واکمنۍ اعتراف وکړ، او يا لکه دوئ چې وايي: په تاريخي فلسطين باندې، او د اسرائيلو په هويت باندې يې د خپل قوم په خلاف چې په اته ځلويښتم کې د اشغال شوي فلسطين اصلي اوسيدونکي وو اقرار وکړ، او په دې توګه قوم پرستانو خپل قوم او ځمکه دواړه خرڅ کړل.

نو د دوئ مثال د هغه چا په شان ده چې خپل ځان ته له خرما څخه بوت جوړ کړي، او چې کله وږی شي نو بيرته يې وخوري، نو ځکه په فلسطين کې خپلو خلکو ته دا نصيحت کوم چې د دوو ټګلارو په مينځ کې توپير وکړي:

د هغه علماني مرسته پريښودونکو ټګلاره چې د غرب پښو لاندې رغړي او د اسرائيلي امنيتي ادارې مرسته کوي، او له غرب او په منطقه کې د هغوئ له مزدورانو سره همنوا دي.

او په دې کې فلسطيني واکمني او ټول عربي دولتونه بې له استثناء شامل دي، او زه له دې نه يو هم نه مستثنی کوم ځکه د دوئ په مينځ کې هيڅ توپير نشته، مګر د اعلان په هغه درجه کې چې دوئ امريکا او غرب ته څومره سر ټيټي دي، او حقيقي تعاون خو د دوئ مينځ کې په خپل قوت سره روان دی.

او ټول په کراتو مراتو له فلسطين نه لاس په سر شوي کوم چې دوئ ورته تاريخي فلسطين وايي، او د دوئ وروستنی څرګندونې صلحې ته د عربي مخکيوالي تر عنوان لاندې وي، کوم چې دوئ په کې د فلسطين د اکثرو حصونه تير شول.

بلکې له اسرائيلو سره د تفاهم کولو په خبره د څرګندونو په وخت کې دفلسطينيانو د بيرته ورګرځيدلو له حق څخه هم په شا شول، او له فلسطين نه دا تيريدنه، تر فلسطيني وطني واکمنی او عربي دولتونو پورې محدوده پاتې نشوه، بلکې ټولو هغو قومي او چپي ګوندونه ته هم ورشامله شوه چې نړيواليزم مني، او د مسلمانانو د ځمکو د غصبولو د بين المللي قراردادونو احترام کوي.

او دا بې دينه تښتيدونکى حرکت د هغو فلسطيني حرکتونوسياسي مشران چې ځان اسلام ته منسوب بولي دې ته هڅوي چې د قوم په اساس د دولت جوړولو له اساس سره اتفاق وکړي، يعنې د سايس بيکو تړون ومني، او د شريعت د حاکميت نه خپله بيزاري اعلان کړي.

او دې دعوه کړل شوي اکثريت، هوا هوس ته دفيصلې وړولو له ليارې، او يا کوم چې دوئ ورته ديموکراسي وايي، او له دې نه دا راوزي چې په فلسطين کې به د غرب او خائنو اسرائيليانو مزدوران مني، او دا د فلسطين واکمنى د محمود عباس په مشرۍ له منلو له ليارې او په هغې کې د عملي برخې اخيستلو له ليارې، او دا بيا له خائنانو سره د وطن يووالي تر عنوان لاندې د ضرورت د منلو له ليارې، او په دې اعتراف کولو چې محمود عباس ته به د فلسطين په نامه د خبرو کول ورسپاري، او د بين الملل د هغو قراردادونو اعتراف او احترام به کوي کوم چې فلسطين تقسيموي، او بيا يې ډيره برخه اسرائيلو ته ور حواله کوي، او دا د مکې په اتفاقيې د امضاء کولو له ليارې.

او د دې علماني بې غيرته منهج په مقابل کې يو بل منهج ده چې د شريعت په حاکميت، د امت مسلمه په يووالي د اسلام په وروروليۍ، او په دې چې د اسلام ټولې ځمکې د يو ملك په منزله دي ايمان لري، او په چيچنيا کې له مجاهدينو بيزاري نه اعلانوي، بلکې د اسلام له منهج څخه د هر ګرځيدلي او له خپل دين، شرف او ځمکې نه د په شا شوي څخه خپله بيزاري اعلانوي.

او دې خوځښت په خلاف ټول غربي دولتونه په سر کې يې امريکا او هغه حکومتونه او ملکونه چې ورسره روان او توافق لري ورټول شوي.

مګر همدا خوځښت د اميد ځای دی، او د همدې خوځښت تګلاره ډيره رڼه او عقيده يې ډيره صحي ده، او دوئ د کتاب الله او د سنت رسول الله ﷺ په صريحو او قاطعو دلايلو اعتماد کوي، او د امت اسلامي په تاريخ او سياسي حقايقو دليل نيسي، او د درباري علماؤ او په رياض، قاهره، او قطر کې د تنخوا خورو علماؤ فتواګانو باندې باور نه لري.

نو په فلسطين کې په اسلامي امت لازمه ده چې خپله لاره معلومه کړي. او دا وپيژني چې څه کول غواړي؟ آيا دا غواړي چې دالله ﷻ په ځمکه ده هغه

شريعت حاكم كړي، او داسلامي ځمكونه اشغالګر وشړي؟ كومې چې د فقهاؤ په اجماع سره د يو ملك په منزله دي.

او كه يو داسې علماني ټوټې شوی كمزوری دولتكۍ غواړی چې نړيوالې او ځايي پټې او ښكاره دسيسې ورباندې ملنډې ووهي.

او اول اختيار چې په فلسطين كې د اسلامي دولت جوړول، او له هغه او ټولو اسلامي ملكونو څخه د اشغالګرو شړل دي، دا به كله هم له هغو عربي دولتونو سره چې فلسطين يې اصلا خرڅ كړ د خبرو اترو له لیارې سرته ونه رسيږي، كوم چې په خپله ځمكه فلسطيني حركتونو ته د دې له پاره ځای وركوي تر څو هغه په خبرو اترو كې د يو كاغذ په څير وكاروي.

دا تګلاره يو بل اسلوب او يو مختلف منهج ته ضرورت لري، كوم چې مجاهدين يې مخ په وړاندې بيايي او صليبي اشغالګران يې له افغانستان او عراق څخه د وتلو اعلانولو ته مجبور كړي.

نو ځكه اې زمونږ اسلامي امته!

په غرب كې غټو مجرمانو د دې هڅه كړې اوكوي به يې چې د داسې چا پلټنه وكړي چې د دوئ او د دوئ د مزدورانو مرسته او مدد وكړي، له هغو خلكو نه چې اسلامي حركتونو ته منسوب وي، يا لكه درباري علماء او يا د تنخواه او منصبونو له فقهاؤ څخه.

نو په افغانستان كې هغه چې ځانو ته يې پخواني مجاهدين ويل، كابل ته روان امريكايي ټينكونو باندې وروختل، دا وروسته له هغه چې په اوو ټنيزو بمونو ويجاړ كړل شوی وو، او سره له دې هم نړيوال اخوان المسلمين تنظيم له دې نه خپله بيزاري اعلان نكړه.

او په عراق كې سيستاني او نورو شيعه مراجعو د مسلمانانو په خاوره له ورختلي دښمن سره د نه جګړې كولو فتوا وركړه.

او هلته د اخوان المسلمين مشرانو په عراق كې د امريكايي اول ګورنر په مجلس كې برخه واخيسته،

او همالته د هاشمي تسلیم شوی تنظیم وو کومو چې د سي، آی، اې د یوې شعبې په بڼه کار کولو، او سره له دې ټولو نړیوال اخوان المسلمین تنظیم له دوئ نه خپله بیزاري اعلان نه کړه.

او په جزیرة العرب کې درباري علماء کوم چې د توحید د عقیدې نه د عقایدو یو کولو ته ور وګرځیدل، په جزیره کې هغه درباري علماء چې هغوئ د امریکا له خوا په مسلمانانو باندې ټاکل شوي ولي الامر ته جزیرة العرب ته د سلګونو زرو اشغالګرو ځواکونو د ورننوتلو فتوا ورکړه، او عراق ته یې د جهاد له پاره د نه ورتګ فتوا په دې وجه ورکړه چې دا خو یوه فتنه ده، او هغو چې د غزې د مرستې کولو له پاره یې د نه مظاهرې کولو فتوی په دې وجه ورکړه چې دا خو یو شور ماشور ده چې د الله ﷻ له ذکره خلك مشغولوي.

او په جزیره کې ځینې اسلامي حرکتونو ته منسوبو ډلو د علي عبدالله صالح سره د مسلمانانو د ولی الامر په حیث بیعت وکړ. وروسته له دې چې امریکا، هغه په مسلمانانو د خپل ولی الامر په حیث تصدیق کړو.

او په صومال کې شیخ شریف احمد، د هغو محاکمو رئیس چې اسلامي وي، د صلیبي غرب او له شرق او غرب څخه د اشغالګرو خواته د مرستې لاسونه ورغځولي تر څو دی د واک په ګدئ کښینوي.

مګر په صومال کې د توحید زمریان ورته په کمین کې ناست وو، او دې ده حکومت یې په څو کیلو مترو کې را محاصره کړی.

او د صومال مسلمان خلك یې د امت د اشغالګرو دښمنانو او د هغوئ د خاینو مزدورانو خلاف جهاد ته سره راټول کړل.

او چیرته هم چې ورسیدل نو شریعت یې نافذ کړ، عدل یې خور کړ، نافع علم او صحیح دعوت یې عام وګرځاوو، او د الله ﷻ په مرسته او توفیق سره یې په شرقي افریقا کې د اسلام او جهاد محکمه قلعه جوړه کړه، سره له دې چې شمیر او اسباب یې د دښمن په مقابله کې کم دی.

او په مصر کې د دوئ غټ شيخ د غزې د محاصره کولو اجازه ورکړه، کوم چې د ناکاره کارونو يو اوږد لست لري، چې ازهر ته د اسرائيلي حاخام له ميلمستيا رانيولی، بيا د حجاب د لرې کولو پورې.

او مغرب اسلامي کې علماني او د خلکو د شتمنيو لوټوونکی حکومت کوم چې د فلسطين نه په شاه شوی د درباري مشايخو او د منصبونو او تنخواه خورو فقهاؤ نه په دې کې مرسته غواړي چې با برکته ورته ووايي، او شرعي حکومت يې وبولي او په مجاهدينو باندې لعنت ووايي.

او اې مسلمان امته دا خندوونکې او ژړوونکې ننداري به تر هغو روانې وي تر څو جهاد، سنګر کې پايداري او هجرتونه روان وي.

نو دا تل پاتې سنت او هر اړخيز قانون دی.

الله ﷻ فرمايي:او په همدې توګه مونږ هر نبي ته له مجرمانو نه څه دښمنان کرځولي وو، او ستا رب لار ښوو نکی او مرستندوی بس دی.

هغه فتوی ورکړه د باطل او د ګمراهی خبره يې وکړه.

او په ښارو کې يې ښکاره کفر راوړ.

نو ته به په هره ځمکه د يو بلونکي نه واورې.

چې درواغجن او يا ښه ته بلنه کوي.

او ته به په هره ځمکه فتنه ووينې.

چې دين به په ارزانه بيعه پلوري.

چې د معز په سرو او تورو به فتوا ورکوي.

او اې مسلمان ملته دا د هغې پوهاوي په اهميت باندې نور هم تاکيد کوي چې اوس مې ورته اشاره وکړه، پس بايد اسلامي امت ټول، په سر کې يې مجاهده ډله په هغه څه پوه شي کوم چې يې چاپيريال کې تيريږي، او په نومونو او ظاهرداريو تير نوزي، بلکې د دعوتونو ريښتينولی او دعوو صحت ته به ګوري. الله ﷻ فرمايي: او کله يې چې ووينې، بدنونه يې ډير ښه درته ښکاري او که څه ووايي، نو خبرې ته يې غوږ نيسې دوئ لکه (ديوال ته ) درول شوي

لرګي(داسې دي) هره چیغه د ځان پر خلاف ګڼي. (اصلي) دښمنان دي نو ځان ترې ساته. الله دې هغوئ تباه کړي، کوم خواته ګرځول کیږي.

زما مسلمان ملته دا ده په افغانستان او عراق باندې د صلیبي حملې د نهو کلو په تیریدو سره، وروسته له دې چې ستا د نیکو مجاهدو زامنو حملو دوی کمزوري کړي، اوس سر ورباندې ګرځي، او وروسته له دې چې د زیاتو ځاني او مالي زیانونو له وجهې یې خپل توازن له لاسه ورکړی، اوس له دې نه د یوې لارې د وتلو په لټه کې دي.

نو اې محبوب امته! دا هماغه لار ده چې پرې اې نږدې.

الله ﷻ فرمایي: له هغوئ سره وجنګیږئ، الله به ستاسو په لاسونو هغوئ ته سزا ورکړي، رسوا به یې کړي، د هغوئ په خلاف به ستاسو مرسته وکړي او د مؤمنانو خلکو زړونه به یخ کړي. او د زړونو تاو به یې ایسته کړي او الله به توبه قبوله کړي پر هغه چا چې خوښه یې شي او الله ډیر پوه حکمت والا دی.

زما مسلمان امته! تاسو ټولو او بالخصوص جهادي اوسنګري ځواکونو ته د صلیبي حملې د نهم کال په تیریدو سره د دې مبارکي ورکوم چې جهادي او سنګري ځواکونه به کامیابیدونکې ورځنې راووزي. او صلیبي اشغالګر ځواکونه به په زخمونو کمزوري شوي وي، او د زیاتو ځاني او مالي تاوانونو نه به تباه شوي وي.

او په دې لړ کې په هر ځای کې خپلو مجاهدینو وروڼو ته د دې تاکید کوم چې حقیقي کامیابي د الله ﷻ د شریعت په ټینګ عملي کولو، او د هغه په تطبیق کې د سستۍ نه کولو کې ده.

نو ځکه مجاهدینو باندې لازمه ده چې د مسلمانانو د وینو د حرمت ساتلو باندې پوره حریص وي، او عملیات یې باید د دې غوره شریعت په رڼا کې منظم شوي وي. او خپل هر عملیات باید له ټولو جوانبو وڅیړي.

او د هر هغه عملیات چې نسبت یې دوئ ته وشي او دوئ نه وي کړي، او د مسلمانانو په خلاف په بازارونو، مسجدونو، او عامو ځایونو کې پلي شوي وي، په کلکه رد او له هغه نه خپل براءت اعلان کړي.

بلکې مونږ له هر هغه عملياتو څخه هم خپله بيزاري اعلانوو چې کومې مجاهدې ډلې سرته رسولي وي، او د مسلمانانو د سلامتيا وس يې پکې نه وي کړی.

ځکه له خپلو کورونو زمونږ وتل، د وطنونو پريښودل، او د قربانيو وړاندې کول، دا هر څه د الله ﷻ د رضا د حصول اود شريعت او د دين د احکامو د مرستې له پاره دي.

زما مسلمان امته! په دې نهو کلونو کې د لاسته راغليو عبرتونو څخه دا هم دي چې د صليبي حملې په وړاندې د مجاهدينو کلک ودريدل، او د خپل بار و بستر په تړلو د هغوئ مجبورول، ترڅو ذليله او سپکه ووزي، دا ټول د حکومتونو او مؤسسو نه لرې تر سره شوي.

ځکه د اسلامي ملکونو حکومتونو خو خيانت وکړ او د مسلمانانو په خلاف د صليبيانو سره په حملې کې شريک شول.

نو دا چې په کوم شي دلالت کوي، هغه د مسلمان امت په قوت او د هغې د پټو طاقتونو په لويوالي دلالت کوي.

بلکې ډيرو اسلامي ډلو د خپلو حکومتو څخه متفاوت موقف ونيولو، په کوم وخت کې چې حکومتونو خپل ځواکونه افغانستان ته د دې له پاره ليږل چې مسلمان په کې ووژني، نو مسلمان امت خپل زامن ليږل تر څو هلته صليبيانو سره جهاد وکړي، او د دې موقف له ښکاره مثالونو څخه په پاکستان او ترکيه کې د مسلمان امت موقف ده، چې له همدې دوو څخه د مجاهدينو ډلې پی پی افغانستان ته روانې دي.

او د عجيبه خبرو څخه خو لا دا ده چې له يوې خوا په افغانستان کې ترکي ضابطانو د ناټو د تړون ځواکو مشري کوله، او له بلې خوا ترکي زړورو مجاهدينو په خپلو حملو، کمينونو، استشهادي حملو سره دې تړون ته سخت عذابونه رسول.

يقينا ترکي مجاهدينو د خپلو هغو پلرونو عظمت بيا را ژوندی کړ چې د اسلام له هستې څخه يې پنځه قرنه دفاع کړې وه.

نو ځکه په ترکي مسلمان ملت باندې لازمه ده چې د خپل حکومت د هغه عمل په وړاندې ودریږي کوم چې دوئ په افغانستان کې د مسلمانانو په وژلو کې شریک دي.

او همدا کار باید د پاکستان حکومت سره هم وشي، کوم چې په صلیبي حملې کې یو اساسي شریک دی.

او حال دا چې پاکستاني مجاهدین په افغانستان کې د جهاد پوره شریکان دي، او څوک کولای شي چې د شهید ابي دجانه خراساني قهرماني هیره کړي، کوم چې اردني مزدور حکومت ته یې د افغانستان په ځمکه داسې درس ورکړ چې کله به یې هم هیر نه کړي.

زما مسلمان ملته! یو ځل بیا د دې تیرو نهو کلونو د لاسته راوړنو مبارکي درکوم.
او همدا راز د الله ﷻ په حکم د نږدې راتلونکې کامیابی مبارکي هم درکوم.

او هغه ورځ به بیا مؤمنان خوشالي کوي. د الله په(دغه) مرسته باندې. چاته یې چې خوښه شي مرسته یې کوي او هماغه ډیر مهربان برلاسی دی.

وآخرُ دعوانا أن الحمدُ لله ربِ العالمين، وصلى اللهُ على سيدنا محمدٍ وآلِه وصحبِه وسلم.

والسلامُ عليكم ورحمةُ اللهِ وبركاتُه.